مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۴/۰۴/۱۲

# د قلندر سپی

د قلندر سپی

څه باندي دېرش کاله مخکي کراچي ته تللی وم. په هغه وخت کي مي خدای بخښلې مور او د ورور اولادونه په هغه ښار کي اوسېدل. مور مي رادته وويل چي د لعل شهباز قلندر زيارت يې د ډېري مودې ارمان دی؛ که يې يو ځل هلته بوزم. سړی به د مور د غوښتني په مقابل کي څه ووايي؟ يو لوی موټر مي کرايه کړ او موټروان ته مي وويل چي مور. شپه د قلندر په زيارت کي تېروو او سبا سهار به مو له هغه ځايه بيرته راولې.

ډېر مي په ياد نه دي چي تر سېوڼ پوري، چي هلته د قلندر زيارت دی، د دريو که د ځلورو ساعتونو لاره وه. کله چي سېوڼ ته ورسېدو نو ما په خپل ژوند کي دونه چټل ځای نه وو ليدلی. بازار، کوڅې، دوکانونه حتی دوکانداران او لوښي يې دونه چټل وه چي د ليدلو نه وه.

د قلندر زيارت په يوه لويه تياره خونه کي وو. ښځې، نارينه او ماشومان پکښی پنډ ول. چا ژړل، چا يې پر قبر طوافونه کول، چا يې د قبر جنډې، چي له چټلی څخه د ليدلو نه وه، مچوله او چا يې حتی قبر ته سجدې کولې. له زيارت څخه بهر هيڅ شی د چټلی له لاسه د ليدلو نه وو. دونه ښه وه چي د خوړلو لپاره مو له کوره څخه يوه څه ډوډۍ راسره اخيستې وه او که مو څه راسره اخيستي نه وای نو چي له لوږي مړ کېدلای هم به مي په بازار کي څه خوړلي نه وای. موټر وان ته مو وويل چي مور. زيارت وکړ بيرته مو کراچي ته بوزه.

تر ټولو په زړه پوري هغه سړی وو چي د قلندر د زيارت په دروازه کي د سپي په څېر پر ګونډو وو او مخ يې ټول د سر په وېښتانو کي پټ وو او سړي اټکل کولای سوای چي په ټول کال کي به يې غسل نه وي کړی. دې سړي پر ځان باندي درانه ځنځيرونه تاو کړي ول او ويل چي دی د قلندر سپی دی.

تاسي فکر وکړی چي که چا د دې وحشي په مخ کي د قلندر نوم په بې ادبي اخيستی وای نو څه به پېښه سوې وای. هغه وحشي، چي په لوی لاس يې له ځان څخه د قلندر سپی جوړ کړی وو، حتما يا هغه سړی واژه او يا به يې ځان واژه.

ګوره چي دا د ژوند دونه زړه خاطره مي تر څشی پوري راته ياده سوه.

افغان جرمن آنلاین پورتال کی د لیکوال آرشیف


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ